**د افغانستان اسلامی امارت**
**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت**
**د مجمع علمی ریاست**
**د إفتاء آمریت**

شماره ............... نیټه ۲۸ / ۲ / ۱۴۴۴

د عبدالمعروف استفتاء !

داستفتاء عنوان **(د مخدره اونشه یي توکو کارولوحکم)**

**به ریاست محترم مجمع علمي.**
**باتقدیم احترامات فائقه.**

محترما درمورد استعمال مواد مخدر که امروز بلکل زیاد شده امید داریم در روشنی شریعت واضح نموده اجر دارین حاصل نماید

**الجواب باسم ملهم الصواب**
**حامدا ومصليا وبه نستعين**

**محترم مستفتي صاحب !**

د نشه یي توکو اومخدره موادو استعمال ، پلورل ، پیرودل ، واردول ، صادرول اوترویجول که په هره وسیله وي حرام او ناروا دی

ځکه د مخدره موادو په تجارت ، انتاج او خرڅلاو کې په ګناه کې همکاري دمنکراتو په اشاعه کې کمک او رضایت دی چې دا ټول کارونه د شرعیت له نظره جواز نلري په اړه يې الله تعالى فرمايي **(وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ )** سورة المائدة الاية (۲) یعني تاسو یو تر بله په نیکي او پرهیزګاري باندې کومک وکړئ ، او په ګناه اوظلم باندې یو تر بله کومک مه کوئ .

همدارنګه : دمخدره موادو او نشه يي توکو ټول انواع که هغه طبعي وي او که مصنوعي چې تخدير راولي اويا نشه پرې راځي پرته له ضرورته د نشې کولو په نیت يې استعمالول ، خوړل ، څښل ، بويه ول اوپیچکاري کول حرام دي ، ځکه مخدره مواد عقل او جسم ته ضرر رسوي چې دا کار دشرعي نصوصو او شرعی مقاصدو خلاف عمل دی .

سربیره پدې ، د ولي الامر په حکم اوفرمان سره د کومو اشیاوو چې نهی اعلان شي هغه حرام ګرځي لکه چې پدې اړه (۳) ګڼه فرمان په ۱۵/ ۲/ ۱۴۴۳ کې صادر شوی چې دهمدې فرمان په اساس د مخدره موادو استعمال ، واردات ، صادرات ، انتقال ، پلورل اوپیرودل بیا هم حرام ګرځي .

همدادول: دانسان افضلیت په نورو مخلوقاتو باندې په الهی خطاب او شرعي مکلفیت باندې ګڼل شوی چې بیا دا مکلفیت دانسان تر عقل پوري تړاو لري لهذا

دهــر هغــه څــه د اســتعمال اواســتفادې څخــه چــې د عقــل د خرابــي ، تعطيــل اوبيكــاري سبب گرځي په شريعت كې ورڅخه ځان ژغورل لازمي گڼل شوي دي
بـل داچــې : مخــدره تــوكي نــه داچــې عقـل تــه زيــان رســوی بلكــه ډيــر زيــات دينــي، دنيــوې، فردي او اجتماعي هلاكونكې زيانونه لري دمثال په توگه
**(۱)** - دينــي زيانونــه: چــې اجمــال يــې د بقــري صــورت پــه (۹۰) ايــات كــې داســې ذكــر شــوي) ژبــاړه: ای هغــو كســانو چــې ايمــان مــو راوړی دی بــې شــكه شــراب او قمــار او بوتــان او غشــي پليـت دي د شـيطن د كړنـو څخـه دي نـو اجتنـاب تـري وكـړي ، شـايد چـې كاميـابې تـر لاسـه كـړي ، يقينـا شـيطان غـواړی چـې ستاسـو پـه منځـو كښـي دشـرابو او قمـار بـازي پـه سـبب دښـمني او حسـد واچوي او هم مو د الله جل جلاله د يادولو اود لمانځه څخه منعه كړي.

**(۲)** - جســمي زيانونــه : هغــه داچــې دانســان عصــبی سيســتم خرابــه وي پــه ځــانگړې توگــه د دمــاغو مركــزي مــاغزه مختــل كــوي همدارنگــه د بــدن ټــول اعضــاء ضــعيف ، سســت ، ســتړي او د درانــه خــوب لامــل گرځــوي چــې پــه نتيجــه كــې يــې تنفســي سســتم بربــاديگې او د ادرار پــه مجراگــانو كــې مختلــف امــراض رامــنځ تــه كــوي، دســتوني او حنجـرې التهـاب پيـدا كـوي، پـه ټـول وجـود كـې تسـمم رامـنځ تـه كـوي بـالاخره انسـان خپـل انسانې كرامت له لاسه وركوي.

**(۳)** – اجتمــاعی او اخلاقــي زيانونــه : لكــه د مصــارفاتو د بــې حــده زيــاتوالی لــه ســببه دفاميلونو او اولادونو دنفقې ، مسكن ، صحت اوتعليم اوتربيي ستونځي .

**(۴)** - فــردي او اجتمــاعي اقتصــاد تــه زيــان : د مخــدره مــوادو اعتيــاد د ژوندانــه پــه ټولــو برخو كې اقتصادې او فردي فوق العاده منفی اثرات لري .

**(۵)** - دســوالگرو زيــات والــی : د دې بــدې پديــدي لــه املــه خلــک هــر څــه لــه لاســه وركــوي لكــه نــن صــبا چــې يــې مــونږ گــورو پــه ســلهاو پــه نشــو روږدو ځوانــانو خپــل صــحت ، مــال او عــزت لــه لاســه وركــړی دی او پــه ســركونو ، مســجدونو ، كوڅــو او بازارونو كې دمخدره موادو لپاره د څو روپو د پيدا كولو په خاطر سوالگري كوي .

**(۶)** - ماشــومانو تــه زيــان: دمخــدره مــوادو زيانونــه د هغــه ماشــومانو ژونــد تــه چــې معتــاد مــور او پــلار ولــري غالبــا شــديد دي چــې د هغــوی ژونــد تــه زيــان اړوې او دسالمي تربيي څخه محروم پاتې كيږي.

**(۷)** - د قتلونــو ، غلاكــانو ، لاروشــكولو ، ترافيكــي حادثــات او د محلــي او بــين المللــي مافيايي كړيو ظهور لامل گرځي.

**(۸)** - داحساســاتو او عــاطفي لــه منځــه تلــل. چــې پــه نشــه روږدی شــخص د نشــي پــه حالــت كــې د تحليــل اوتصــميم گيــري تــوان نلــري ، زيــات وخــت روږدی كــس پــه خپلــو خبرو كنترول نلري او په خپلو توهين آميزه خبرو نوروته زيان رسوي.

**(۹)** – پــه نشــه یــې توکــو روږدي کســان پــه ګنــده ځــايونو کــې ژونــد کــوي چــې ورســره ټول ماحول د ګندګۍ نه ډک وي بدبويي وي او هم نور خلک ورسره په تکليف وي.

**(۱۰)** – او پــه نشــه یــې توکــو روږدي کســان د امراضــو دخوريــدو ســبب هــم ګرځــي خپله خو په مختلفو مرضونه اخته وي نور خلک هم د ځان سره مريضانه وي .

**(۱۱)** – همدارنګــه د روږدو کســانو عفــت او عــزت کــاملا لــه منځــه درومــي خصوصــا هغــه زنانــه چــې پــه دغــه مريضــي اختــه وي اوبيــا د پلونــو لانــدې پــه بــې حيــايي او بــې عزتــي کــې ژونــد تيــروي .چــې دا د اســلامي اخلاقــو ســره بلکــل خــلاف ده او هــم زمــونږ ددې درنې معاشرې د کلتور او عنعناتو سره په ټکر کې ده.

**(۱۲)** مقصــد دا چــې ددغــه نــاوړه توکــو واردونکــي اوتســهيلونکي د ډيــر لــوی جــرم مرتکــب دي الله جل جلاله دی مونږه ټول مسلمانان ورڅخه وساتي. **والله اعلم وعلمه اتم.**

**والدليل على ماقلناه :**

**(۱) – (يَـا أَيُّهَـا الَّـذِينَ آمَنُـوا إِنَّمَـا الْخَمْـرُ وَالْمَيْسِـرُ وَالْأَنْصَـابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْـسٌ مِـنْ عَمَـلِ الشَّـيْطَانِ فَـاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُـمْ تُفْلِحُـونَ (۹۰) إِنَّمَـا يُرِيـدُ الشَّـيْطَانُ أَنْ يُوقِـعَ بَيْـنَكُمُ الْعَـدَاوَةَ وَالْبَغْضَـاءَ فِـي الْخَمْـرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ ( سورة المائده الاية (۹۰- ۹۱)**

**(۲) – (وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ) البقرة الاية (۱۹۵).**

**(۳)- (وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ) النساء الاية (۲۹).**

**(۴) (عَنِ ابْـنِ عُمَـرَ قَـالَ قَـالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليـه وسلم- (كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْـرٌ وَكُـلُّ مُسْكِرٍ حَـرَامٌ وَمَـنْ مَـاتَ وَهُـوَ يَشْـرَبُ الْخَمْـرَ يُـدْمِنُهَا لَـمْ يَشْـرَبْهَا فِـى الآخِـرَةِ) سـنن أبـي داود (۳) تـوک (۳۶۸) مـخ- طبع - دار الكتاب العربي - بيروت).**

**(۵) – (عَـنْ أُمِّ سَـلَمَةَ قَالَـتْ : نَهَـى رَسُـولُ اللَّهِ -صـلى الله عليــه وسـلم (عَـنْ كُـلِّ مُسْـكِرٍ وَمُفَتِّـرٍ) السنن الكبرى (۸) ټوک (۲۹۶) مخ- طبع - دائرة المعارف هند).**

**(۶) – (عـن ابـن عبـاس قـال قـال رسـول الله ( لاضـرر ولاضـرار ) سـنن ابـن ماجـه (۲) ټـوک (۷۸۴) مخ - دار الفكر – بيروت).**

**(۷) – (عَـنْ جَـابِرِ بْـنِ عَبْـدِ اللَّهِ قَـالَ قَـالَ رَسُـولُ اللَّهِ -صـلى الله عليــه وسـلم(مَـا أَسْـكَرَ كَثِيـرُهُ فَقَلِيلُـهُ حَرَامٌ ) السنن الكبرى (۸) ټوک (۲۹۶) مخ - طبع - دائرة المعارف).**

**(۸) – (كُـلُّ مُسْـكِرٍ حَـرَامٌ ، إِنَّ اللَّهَ عَهِـدَ لِمَـنْ يَشْـرَبُ الْمُسْـكِرَ أَنْ يَسْـقِيَهُ مِـنْ طِينَـةِ الْخَبَـالِ قَـالُوا : وَمَـا طِينَـةُ الْخَبَـالِ ؟ قَـالَ : عَـرَقُ أَهْـلِ النَّـارِ ، أَوْ عُصَـارَةُ أَهْـلِ النَّـارِ) صـحيح مسـلم (۳) ټـوک (۱۵۸۷) مخ).**

(٩) – (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ (كُلُّ مُخَمِّرٍ خَمْرٌ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ وَمَنْ شَرِبَ مُسْكِرًا بُخِسَتْ صَلاَتُهُ أَرْبَعِينَ صَبَاحًا فَإِنْ تَابَ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِ فَإِنْ عَادَ الرَّابِعَةَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ، قِيلَ وَمَا طِينَةُ الْخَبَالِ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ : صَدِيدُ أَهْلِ النَّارِ ) سنن أبي داود(٣) توك (٣٦٨) مخ ).

(١٠)- ( لَعَنَ اللَّهُ الْخَمْرَ وَشَارِبَهَا وَسَاقِيَهَا وَبَائِعَهَا وَمُبْتَاعَهَا وَعَاصِرَهَا وَمُعْتَصِرَهَا وَحَامِلَهَا وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ) سنن أبي داود (٣) توك (٣٦٦) مخ - طبع - دار الكتاب العربي - بيروت).

(١١) – (وَلَا يَجُوزُ أَكْلُ الْبَنْجِ ، وَالْحَشِيشَةِ ، وَالْأَفْيُونِ وَذَلِكَ كُلُّهُ حَرَامٌ لِأَنَّهُ يُفْسِدُ الْعَقْلَ حَتَّى يَصِيرَ الرَّجُلُ فِيهِ خَلَاعَةٌ وَفَسَادٌ وَيَصُدَّهُ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنْ الصَّلَاةِ) الجوهرة النيرة(٥) توك (٢٣٩) مخ طبع - موقع الإسلام).

(١٢) - ( وَيَحْرُمُ أَكْلُ الْبَنْجِ وَالْحَشِيشَةِ ) هِيَ وَرَقُ الْقِنَّبِ ( وَالْأَفْيُونُ ) لِأَنَّهُ مُفْسِدٌ لِلْعَقْلِ وَيَصُدُّ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنْ الصَّلَاةِ ( لَكِنْ دُونَ حُرْمَةِ الْخَمْرِ ، فَإِنْ أَكَلَ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ لَا حَدَّ عَلَيْهِ وَإِنْ سَكِرَ مِنْهُ بَلْ يُعَزَّرُ بِمَا دُونَ الْحَدِّ ) رد المحتار (٢٧) توك (٢٢٠) مخ - طبع - موقع الإسلام).

(١٣) – (وَالْحَاصِلُ أَنَّ اسْتِعْمَالَ الْكَثِيرِ الْمُسْكِرِ مِنْهُ حَرَامٌ مُطْلَقًا كَمَا يَدُلُّ عَلَيْهِ كَلَامُ الْغَايَةِ . وَأَمَّا الْقَلِيلُ ، فَإِنْ كَانَ لِلَّهْوِ حَرَامٌ ، وَإِنْ سَكِرَ مِنْهُ يَقَعُ طَلَاقُهُ لِأَنَّ مَبْدَأَ اسْتِعْمَالِهِ كَانَ مَحْظُورًا ، وَإِنْ كَانَ لِلتَّدَاوِي وَحَصَلَ مِنْهُ إسْكَارٌ فَلَا) رد المحتار (٢٧) توك (٢٢٣) مخ - طبع - موقع الإسلام).

(١٤)- (السُّكْرُ مِن الْبَنْجِ وَلَبَنِ الرَّمَكَةِ حَرَامٌ بِالْإِجْمَاعِ كَذَا فِي جَوَاهِرِ الْأَخْلَاطِيِّ) الهندية (٥) توك (٤١٥) مخ - طبع دارالمعارف).

(١٥) – (واما الذي يسقى الناس البنج والشوكزان ونحوه مما يذهل الانسان او يذهب العقل ثم يأخذ منه فان هؤلاء لايقتلون ولكن يعاقبون عقوبة شديدة ويحبسون حتى تعلم توبتهم ويغرمون ما اخذوا من الناس) النتف في الفتاوى لأبو الحسن علي بن الحسين بن محمد السعدي (٢) توك (٦٩٥) مخ (٢) توك (٢٩٦) مخ- طبع دار الفرقان - بيروت ).

(١٦) – (ومع نهي ولي الأمر عنه حرم قطعا) الدر المختار (٦) توك (٤٦٠) مخ - طبع- دار الفكر بيروت).

(١٧) - (إن الحشيشة حرام، يُحَدُّ متناولها كما يحد شارب الخمر، وهي أخبث من الخمر من جهة أنها تفسد العقل والمزاج، حتى يصير في الرجل تخنث ودياثة، وغير ذلك من الفساد، وأنها تصد عن ذكر الله وعن الصلاة، وهي داخلة فيما حرّمه الله ورسوله من الخمر والمسكر لفظاً أو معنى) الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ (٧) توك (٤٤٥) مخ –طبع دارالفكر).

مولوى عبدالستار (خادم )